دافغانستان اسلامي جمهوريت
دانتخاباتو دشکايتونو کميسيون

جمهوری اسلامی افغانستان
کمیسیون شکایات انتخاباتی

Islamic Republic of Afghanistan
Electoral Complaints Commission

---

۲۳ می, ۲۰۰۹

د جمهوری رياست او ولايتی شوراګانو انتخاباتو ټولو کانديدانو او هغوی استازو ته

ټولو ثبت شوو سياسی ګوندونو ته

د انتخاباتو خپلواک کميسيون

## د انتخاباتي کمپاين د فعاليتونه په اړه بيايادونه

د انتخاباتو د خپلواک کميسيون متوجه شوی دي چی ځيني لمړنيو کانديدانو د انتخاباتو د خپلواک کميسيون له خوا څخه د ټاکل شوي کمپاين د مودي څخه مخکی د خپلو کمپاينونو د پوسترونو په نصب کولو يی پيل کړي او د کمپاين په نورو کړنو کی بوخت دي. دا د انتخاباتو د قانون او د انتخاباتی کمپاين د مقرري څخه چی د هغه پر بنسټ کانديدان يوازي د ۲۰۰۸ کال د جون د ۱۶ څخه بيا د اګسټ تر ۱۸ پوري کمپاين کولاي شي، سرغړونه ده.

پدی ډول د انتخاباتی شکايتونو کميسيون دا خبرتيا ټولو نوماندو کانديدانو، هغوی استازو، او سياسی ګوندونو ته خپروي چی د ۲۰۰۹ کال د جون مياشتي تر ۱۶ نيټي پوري هر ډول انتخاباتی کمپاين په لاره اچول لکه د پوسترونو نښلول، د پاڼو او چاپ شوو رسالو ويشل او د کمپاين د غونډو په لاره اچول شديداً منع دي.

د انتخاباتی شکايتونو کميسيون په همدی ډول ټولو دولتی کارکونکو ته دا يادونه کوی چی هغوی بايد په انتخاباتو کی بيطرفه وي. دا پدی معنی ده چی هيڅ دولتی ځای او يا دهغه د دارايي، لکه موټرونو څخه نه بايد چی په انتخاباتی کمپاين کی ځينی کار واخيستل شي. د ټولو سطحو دولتی کارکونکی بايد چی په هر عامه غونډی کی د ګډون څخه ځان وساتی تر څو چی د يو کانديد څخه د ملاتړ په ډول و نه بلل شي.

د انتخاباتی شکايتونو کميسيون د انتخاباتو د قانون له لاری دا صلاحيت ورته ورکړل شوی دي چی پر کانديدانو، د هغوی پر استازو، سياسی ګوندونو، انتخاباتی کارکونکو، او پر نورو باندي د انتخاباتو د قانون څخه د سرغړوني لپاره بنديزونه ولګوی، او د نقدی جريمي د وضع کولو او د جبرانونکی عمل د امر کولو صلاحيت هم ورته ورکړل شوی دي.

هر شخص او ټولنه چی د کمپاين د پوسټرونو د نښلولو مسوليت په غاړه لری بايد چی دا توکی ژر تر ژره ليري کړي. د انتخاباتوخپلواک کميسيون له خوا څخه د کانديدانو د نهايی لسټ د خپريدو څخه وروسته پدی لسټ کی موجود کانديدان کولای شی چی د جون د ۱۶ نيټی څخه وروسته خپل کمپاين پيل کړي. هر څوک چی دي مقررې ته غاړه نه ايږدي د انتخاباتی شکايتونو کميسيون له خوا څخه پر دوی باندي د انتخاباتی کمپاين د مقرري څخه د سرغړوني لپاره بنديزونه به وضع شی.

د انتخاباتی شکايتونو کميسيون پر ټولو دخيلو کسانو باندی چی په انتخاباتو کی بوخت دي غږ کوی تر څو چی د انتخاباتو قانون او مقررات تعقيب کړي.